# د کورنۍ د چمتووالي فورمونه

## ستاسو د مهمو معلوماتو فورمه

«د شخصي بیړنیو معلوماتو پاڼه» یو ساده خو ډېر مهم سند دی چې هر څوک یې باید ولري. که خدای مه کړه تاسو ونیول شئ، توقیف شئ، یا کومه بله بیړنۍ پېښه رامنځته شي، دا پاڼه د والد(ینو)، سرپرستانو یا د کورنۍ د نورو بالغو غړو لپاره ده. دا هغه مهم نومونه او د اړیکو شمېرې برابروي چې ستاسو په نشتون کې یو پاملرونکی یا د بیړني حالت ارتباطي اړتیا ورته لري.

فورمه

**په دې معلوماتي پاڼه کې لاندې معلومات شامل دي:**

- بشپړ نوم او د زیږون نېټه
- A# شمېره او د کډوالۍ د قضیې شمېرې
- حساسیتونه یا الرژۍ او درمل
- د روغتیایي بیمې شمېره
- د قونسلګرۍ معلومات
- د بیړني حالت ارتباطي کس(ان)

**دا فورمه نه د نوټرۍ یا اسنادو دفتر تصدیق ته اړتیا لري او نه د شاهدانو، او تاسو کولای شئ خپله یې په اسانۍ ډکه کړئ.**

## د خپل ماشوم د مهمو معلوماتو فورمه

د شخصي معلوماتو پاڼې په څېر، که تاسو والد(ین) یا سرپرست یاست، کولای شئ د خپلو ماشومانو لپاره هم د معلوماتو یوه پاڼه چمتو کړئ.

فورمه

**په دې پاڼه کې باید دا معلومات شامل وي:**

- بشپړ نوم او د زیږون نېټه
- د ټولنیز خوندیتوب *(Social Security)* شمېره
- د پاسپورټ شمېره
- طبي معلومات
- د ښوونځي او تر ښوونځي وروسته فعالیتونو معلومات
- د اصلي هېواد د اوسېدونکي ارتباطي په ګډون د بیړني حالت ارتباطي کس(ان)؛ او داسې نور.

**دا فورمه نه د نوټرۍ یا اسنادو دفتر تصدیق ته اړتیا لري او نه د شاهدانو، او تاسو کولای شئ خپله یې په اسانۍ ډکه کړئ.**

## د معاش د چک اخیستو اجازه‌لیک

دا فورمه یوازې هغه وخت اړونده ده چې تاسو خپله تنخوا یا معاش د چک له لارې ترلاسه کوئ. په دې فورمه کې تاسو یو باوري کس ته اجازه ورکوئ چې –که تاسو نه شئ کولی- ستاسو د معاش چک ترلاسه کړي. دا مهمه ده چې له خپل کار ګمارونکي سره د دې په اړه خبرې وکړئ او کله چې فورمه بشپړه شي، هغه ته یې وسپارئ.

فورمه

**اړین معلومات او اسناد:**

- د شرکت یا کار ګمارونکي نوم
- د کارکوونکي نوم
- د هغه کس بشپړ نوم چې د معاش چک د اخیستو اجازه لري

**دا فورمه د اسنادو دفتر تصدیق ته اړتیا لري، خو شاهدانو ته اړتیا نه لري.**




NYIC

دا لارښود یوازې د معلوماتو لپاره دی او قانوني مشوره نه ده. که تاسو د خپلو حقونو، د خپلې کورنۍ د وضعیت، یا د خپلې کډوالۍ د قضیې په اړه پوښتنې لرئ، نو باید د کډوالۍ یا د کورنۍ له یو وړ او با صلاحیته قانوني وکیل، یا له یو تصدیق‌شوي استازي سره مشوره وکړئ.

NEW YORK STATE | Department of State
Office for New Americans

New Americans Hotline:
1-800-566-7636
Monday – Friday, 9 AM–8 PM EST
MULTI-LINGUAL AND CONFIDENTIAL

## د ماشوم د سفر اجازهلیک

دا فورمه تاسو ته دا توان درکوي چې په خپل نشتون کې مو ماشوم ته د سفر اجازه ورکړئ. دا په ځانګړي ډول د هغو کورنیو لپاره مهمه ده چې د توقیف یا ایستلو له امله جلا شوي او هڅه کوي یوځای شي. د کډوالۍ چارواکي او د الوتنې شرکت کارکوونکي ډېر وخت د دې فورمې غوښتنه کوي؛ په ځانګړي ډول هغه وخت چې ماشوم یوازې یا له مور او پلار پرته له بل چا (لکه خپلوان یا د کورنۍ دوست) سره سفر کوي. دا فورمه د دې ثبوت په توګه کار کوي چې ماشوم ستاسو په رضایت او اجازه سفر کوي. هر والد باید د خپل هر ماشوم لپاره جلا فورمه ډکه کړي. تاسو کولای شئ دا فورمه له مخکې هم بشپړه کړئ تر څو چمتو اوسئ.

**دا فورمه باید د اسنادو دفتر په حضور کې لاسلیک شي او د لاسلیک له نېټې وروسته د یوه کال لپاره اعتبار لري. د دې فورمې لپاره شاهدانو ته اړتیا نشته.**



**اړین معلومات او اسناد:**

- د والد(ینو) بشپړ نوم
- د والد(ینو) پته
- د ماشوم بشپړ نوم
- د ماشوم د زیږون نېټه
- د ماشوم د پاسپورټ هېواد او شمېره
- د سفر ځای او د سفر موخه
- که اړتیا وي؛ د پاملرونکي نوم، د پاسپورټ هېواد او شمېره، پته، تلیفون، برېښنالیک
- د هر ماشوم د زیږون سند
- د هر ماشوم د پاسپورټ د پېژندپاڼې صفحه
- د والد(ینو) د پاسپورټ د پېژندپاڼې صفحه
- د سرپرست / پاملرونکي د پاسپورټ د پېژندپاڼې صفحه
- د بل والد رضایت
- که اړتیا وي: د بل والد د مړینې سند
- که اړتیا وي: د سرپرستۍ یا پالنې لپاره د محکمې حکم

فورمه

# د کورنۍ د چمتووالي فورمونه

## موقتي یا کمکي سرپرستي

موقتي (د احتیاطي حالت) سرپرستي تاسو ته دا توان درکوي چې یو بل بالغ کس ته د خپل نابالغ ماشوم د پوره قانوني واک اجازه ورکړئ. ټاکل شوی سرپرست یوازې هغه وخت دنده پر غاړه اخلي چې د فورمې په متن کې ذکر شوې بیړنۍ پېښه رامنځته شي؛ لکه د والد(ینو) ناروغي، مړینه، یا توقیف او نیول کېدل. په داسې حالت کې به سرپرست د والد(ینو) په څېر قانوني واک ولري، چې دا حقونه پکې شامل دي: له ماشوم سره بهر ته سفر کول، د هغه لپاره د اسنادو غوښتنه کول، د طبي درملنې پرېکړې کول، او په ښوونځي کې د هغه نوملیکنه کول.

دا فورمه د بیړني حالت له پیل وروسته د 60 ورځو لپاره اعتبار لري. په همدغو 60 ورځو کې، سرپرست باید دا فورمه د کورنۍ محکمې یا د وراثت محکمې ته یوسي څو د قاضي له خوا تصویب شي. کله چې قاضي دا موقتي سرپرستي تصویب کړي، تر هغه وخته به نافذه پاتې شي چې محکمه بله پرېکړه وکړي. محکمه هڅه کوي له والد(ینو) سره اړیکه ونیسي ترڅو د هغوی رضایت تایید کړي. که یو یا دواړه والدین ونه شي موندل کېدای (لکه د توقیف په حالت کې)، قاضي کولای شي له هغوی پرته پرېکړه وکړي. له پرېکړې مخکې، محکمه د ټاکل شوي موقتي سرپرست او د هغه د کورنۍ د غړو په اړه څېړنه کوي؛ په دې کې د جنایي شالید کتنه هم شامله ده، څو ډاډ ترلاسه کړي چې سرپرست خوندي او د باور وړ دی.

والدین د موقتي یا احتیاطي سرپرستۍ د فعالېدو پر مهال هم خپل ټول حقونه له لاسه نه ورکوي. دا فورمه هر وخت معدومولو او له منځه وړلو له لارې د ابطال او لغوه کېدو وړ ده.

د دې فورمې لپاره د اسنادو دفتر تصدیق ته اړتیا نشته؛ خو باید د دوو بالغانو شاهدانو په حضور کې لاسلیک شي.

**اړین معلومات او اسناد:**

- د والد(ینو) بشپړ نوم، پته، او د تلیفون شمېره
- د ټاکل شوي سرپرست بشپړ نوم، پته، او د تلیفون شمېره
- د ماشوم(انو) بشپړ نوم(ونه) او د زیږون نېټه(نېټې)
- د دوو شاهدانو بشپړ نومونه، پتې، او د تلیفون شمېرې

فورمه



دا لارښود یوازې د معلوماتو لپاره دی او قانوني مشوره نه ده. که تاسو د خپلو حقونو، د خپلې کورنۍ د وضعیت، یا د خپلې کډوالۍ د قضیې په اړه پوښتنې لرئ، نو باید د کډوالۍ یا د کورنۍ له یو وړ او با صلاحیته قانوني وکیل، یا له یو تصدیق‌شوي استازي سره مشوره وکړئ.

NYIC

Department of State
Office for New Americans

New Americans Hotline:
1-800-566-7636
Monday – Friday, 9 AM–8 PM EST
MULTI-LINGUAL AND CONFIDENTIAL

# د کورنۍ د چمتووالي فورمونه

## د والد(ینو) د ټاکنې فورمه (OCFS-4940)

دا فورمه والد(ینو) ته دا حق ورکوي چې یوه بل بالغ کس ته د لنډ مهال لپاره د خپل ماشوم د ښوونځي او روغتیا اړوند پرېکړو واک ورکړي. دا فورمه ټاکل شوي کس ته اجازه نه ورکوي چې له ماشوم سره سفر وکړي، جراحي ومني، د پاسپورټ یا نورو اسنادو لپاره غوښتنه وکړي، یا له زده‌کړې او روغتیا بهر نورې پرېکړې وکړي.

دا فورمه عموماً هغه وخت کارول کېږي چې والدین د بیړني حالت له امله د لنډ وخت لپاره د خپل ماشوم د پاملرنې توان ونه لري. ټاکل شوی بالغ کس کولای شي د بیړني حالت پر مهال د ماشوم د ښوونې او روغتیا اړوند پرېکړې وکړي. والد(ین) د دې فورمې په لاسلیک کولو سره خپل هیڅ د والدینتوب حقونه له لاسه نه ورکوي. دا فورمه د بیړني حالت له پیل وروسته د 12 میاشتو لپاره اعتبار لري او د اړتیا په صورت کې تمدیدېدای هم شي. یوازې یو والد –مګر دا چې د محکمې له خپل ګډې سرپرستۍ پرېکړه شوې وي- باید دا فورمه لاسلیک کړي.

**په نیویارک ایالت کې دا فورمه باید اسنادو دفتر کې تصدیق شي، خو شاهدانو ته اړتیا نه لري.**

فورمه

**اړین معلومات او اسناد:**

- د والد(ینو) بشپړ نوم، پته، او د تلیفون شمېره
- د ټاکل شوي پاملرونکي بشپړ نوم، پته، او د تلیفون شمېره
- د ماشوم(انو) بشپړ نوم(ونه) او د زیږون نېټه(نېټې)
- که اړتیا وي، د قانوني سرپرست بشپړ نوم، پته، او د تلیفون شمېره

## د موقتي یا کمکي سرپرستۍ (آبي فورمې) او د والد(ینو) د ټاکنې (ارغواني فورمې) تر منځ توپیر

هیڅ یوه فورمه له بلې غوره نه ده؛ د فورمې انتخاب د هر شخص پر ځانګړي وضعیت او اړتیاوو پورې اړه لري.

- د والد(ینو) په خبر واک لري؛ کولای شي د ماشوم په اړه مهمې پرېکړې وکړېد
- د اسنادو دفتر تصدیق ته اړتیا نه لري، خو د دوو شاهدانو شتون اړین دی.
- د بیړني حالت له پیل وروسته د لومړیو 60 ورځو لپاره نافذه ده؛ د قاضي لخوا تصویب کېدو سره نافذېږي او تر لغوه کېدو پورې یې نافذه او د اعتبار وړ پاتې کېږي.
- د محکمې تایید اړین دی.

**د دواړو فورمو ګډ ټکي**

**والدین خپل د والدینتوب حقونه ساتي.**

**دواړه فورمې د بیړني حالت له پېښېدو وروسته سمدستي نافذېږي.**

**والدین یې هر وخت لغوه کولای شي.**

- یوازې د روغتیا او زده‌کړې پرېکړې کولای شي.
- باید د اسنادو دفتر لخوا تصدیق شي، خو شاهدانو ته اړتیا نه لري.
- د 12 میاشتو لپاره اعتبار لري، خو تمدیدېدلی شي.
- د محکمې تصویب ته اړتیا نه لري.

Department of State
Office for New Americans

New Americans Hotline:
1-800-566-7636
Monday – Friday, 9 AM–8 PM EST
MULTI-LINGUAL AND CONFIDENTIAL

NYIC

دا لارښود یوازې د معلوماتو لپاره دی او قانوني مشوره نه ده. که تاسو د خپلو حقونو، د خپلې کورنۍ د وضعیت، یا د خپلې کډوالۍ د قضیې په اړه پوښتنې لرئ، نو باید د کډوالۍ یا د کورنۍ له یو وړ او با صلاحیته قانوني وکیل، یا له یو تصدیق‌شوي استازي سره مشوره وکړئ.

# د کورنۍ د چمتووالي فورمونه

## د ماشومانو لپاره د امریکا د پاسپورټ غوښتنلیک

که ستاسو ماشوم په متحده ایالاتو کې زېږېدلی وي، نو هغه د امریکا تبعه ګڼل کېږي. که ماشوم مو تر 16 کلونو څخه کم عمر ولري، نو غوره ده چې د هغه لپاره امریکایي پاسپورټ ترلاسه کړئ. پاسپورټ ستاسو ماشوم ته دا اجازه ورکوي چې که اړتیا پېښه شي، له هېواده بهر او بېرته هېواد ته سفر وکړي، او همدارنګه دا د هغه د تابعیت او قانوني موقف رسمي ثبوت ګڼل کېږي.

### DS-11 فورمه

د پاسپورټ غوښتنلیک اصلي فورمه DS-11 نومېږي، او دا د ټولو هغو ماشومانو لپاره کارول کېږي چې عمر یې له 16 کلونو څخه کم وي. دا فورمه باید په حضوري توګه د پاسپورټ د منلو په کوم ځای (لکه پوسته‌خانه یا بل تصویب شوي مرکز) کې وسپارل شي. د غوښتنلیک پر مهال باید دواړه والدین حاضر وي. که دواړه حاضر نه شي، یو قانوني سرپرست هم کولای شي دا کار ترسره کړي. د دې فورمې لپاره نه د اسنادو د دفتر تصدیق ته اړتیا شته او نه د شاهدانو؛ خو ټول اړوند کسان باید په حضوري ډول حاضر وي.

د DS-11
اصلي فورمه

### DS-3053 فورمه

که یو والد په حضوري ډول نه شي حاضرېدلای، نو د DS-3053 فورمه کارول کېږي. د دغې فورمې له لارې یو والد بل ته اجازه ورکوي چې د هغه/هغې په غیاب کې د ماشوم لپاره د پاسپورټ غوښتنه وکړي. دا فورمه په ځانګړي ډول د هغو کورنیو لپاره ډېره مهمه ده چې د توقیف یا جلا کېدو په خطر کې وي؛ ځکه باید د غوښتنلیک تر سپارل کېدو وړاندې چمتو شي. د دې فورمې لپاره د اسنادو د دفتر تصدیق ته اړتیا ده؛ خو شاهدانو ته اړتیا نه لري.

DS-3053

### DS-5525 فورمه

که له یوه والد سره په هېڅ ډول اړیکه نه شي نیول کېدای، یا یې ځای معلوم نه وي، نو د DS-5525 فورمه کارول کېږي. دا فورمه هغه وخت کارول کېږي چې د ځانګړو کورنیو شرایطو له امله د دوهم والد رضا ترلاسه کول ممکن نه وي. دې فورمې ته نه د اسنادو د دفتر د تصدیق اړتیا ده او نه د شاهدانو؛ خو باید د ملاتړ شواهد وړاندې شي، لکه یو لیکلی تشریحي بیان چې وضعیت پکې روښانه شي.

DS-5525

**لنډیز:**

- DS-11 هغه معیاري فورمه ده چې د دواړو والد(ینو) د حضور پر مهال کارول کېږي.
- DS-3053 هغه وخت کارول کېږي چې یو والد حاضر نه شي؛ خو د اسنادو د دفتر له لارې خپله لاسلیک شوې اجازه وړاندې کولی شي.
- DS-5525 هغه وخت کارول کېږي چې دوهم والد د موندل کېدو او لاسرسي وړ نه وي یا هېڅ اړیکه نه شي ورسره نیول کېدای.



# د کورنۍ د چمتووالي فورمونه

## د ماشومانو لپاره د امریکایي پاسپورټ غوښتنلیک

**اړین معلومات او اسناد:**

- د ماشوم د زیږون سند (چې د دواړو والدینو نومونه پکې ښودل شوي وي)
- د دواړو والد(ینو) پېژندپاڼې یا آی‌ډي کارتونه
- که اړتیا وي؛ د قانوني سرپرست اسناد
- د ماشوم د پاسپورټ عکس
- فیس: تر 16 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشوم لپاره پاسپورټ شاوخوا $135 لګښت لري؛ خو که چټک خدمت وغواړئ، نو بیه لوړېدلی شي.

***DS-11* (اصلي فورمه)**

- د ماشوم نوم، جنسیت، د زیږون نېټه، د زیږون ځای، د ټولنیز خوندیتوب شمېره، قد، د وېښتانو او د سترګو رنګ
- پته، برېښنالیک، او د تلیفون شمېره
- د والد(ینو) نومونه، د زیږون نېټې، او د زیږون ځایونه

***DS-3053* فورمه (که یو والد حاضر نه شي)**

- د ماشوم نوم او د زیږون نېټه
- د دواړو والد(ینو) نومونه، پتې، برېښنالیکونه، او د تلیفون شمېرې
- که اړتیا وي؛ د قانوني سرپرست نوم، پته، او د تلیفون شمېره

**DS-5525 فورمه (که دوهم والد د لاسرسي وړ نه وي)**

- د ماشوم نوم او د زیږون نېټه
- د غوښتنلیک ورکوونکي والد یا قانوني سرپرست نوم، پته، برېښنالیک، او د تلیفون شمېره
- د غایب (هغه چې غوښتنلیک نه ورکوي) والد یا قانوني سرپرست نوم، پته، برېښنالیک، او د تلیفون شمېره
- وروستی ځل چې تاسو له غایب ورکوونکي والد یا قانوني سرپرست سره اړیکه نیولې، کله او څنګه وه؟
- د هغو هڅو تشریح چې تاسو د غایب والد یا سرپرست د موندلو لپاره کړې دي
- که اړتیا وي: د هغو ملګرو یا خپلوانو معلومات چې د هغوی له لارې مو د اړیکې نیولو هڅه کړې ده
- تشریح کړئ چې تاسو څنګه د غایب والد د رضایت ترلاسه کولو لپاره هڅې کړې دي؛ او ولې مو دا هڅې بې پایلې وې.

